UNAMA
دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان
دفتر ارتباطات استراتیژیک و سخنگوی، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

## په تير يوه کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون د پلي کيدو په تړاو  ګډې پايلې.

**کابل، ۲۰۱۳ کال د ډسمبر ۸ مه:** د ملګرو ملتونو يو تازه رپوټ وايي: د تير کال په لړ کې افغان چارواکو د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي ډيرى پيښې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون په رڼا کې  ثبت کړې دي، خو د قانون له مخې  د محاکمو  او عدلي ځار کچه لا  ټيټه  ده  او ډيرې پيښې د منځګړيتوب له لارې هوارې شوې دي.

د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي دفتر (يوناما) او د بشري حقونو په  برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کميشنري، موندلې  چې پوليسو او څارنوالۍ ډيرې  پيښې  چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون له مخې ثبت شوې  په کې يې منځګړيتوب کړى دى او ګڼ شمير نورې پيښې  د شخړو د حل د دوديزو ميکانيزمونو (جرګې او شوراګانو) له لارې هوارې شوې دي. .منځګړيتوب چې د رسمي يا نارسمي بنسټونو  له خوا تر سره کيږي ډيرى وخت نشي کولې د نه مجازات کولو او د ښځو لپاره د قانوني خونديتوب د نه برابريدو له امله په راتلونکې کې ښځې له تاوتريخوالي خوندي وساتي.

د بشري حقونو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمشنرې ناوې پيلې  وويل:( د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون د ټولو افغانانو لپاره يوه لويه لاسته راوړنه ده) نومووړې  زياته کړه: خو د دغه قانون پلي کيدل ورو وو او يو ډول نه وو. پوليس تر اوسه د زيان رسوونکې دوديز چلند پر وړاندې قانوني مخنيوى ته زړه نه ښه کوي او څارونوالان او محاکم په ياد قانون کې د قانوني ضمانتونو د پلي کولو په برخه کې ورو عمل کوي. د هغو لاسته راوړنو د زياتوالي لپاره چې د تاوتريخوالي پر وړاندې د ښځو او نجونو د ساتنې لپاره تر لاسه شوې دي،افغان مقاماتو ته په کار ده  چې زيات کارونه تر سره کړي.

د افغانستان حکومت په ۲۰۰۹ ميلادي کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون په تصويب سره خپلې هغه ژمنې ته اغيزناکه قانوني بڼه ورکړه چې اساسي قانون کې يې د جنسي برابري په هکله درلوده. د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي او ناوړه دودونو په شمول، له قانوني عمره مخکې ودونه،واده ته اړ ايستل يا منع کول، په بدو کې ورکول، ځان سوزونې ته اړ ايستل او د وهلو ټکولو او جنسي تيري  په ګډون د ښځو پر وړاندې ۱۸ډوله نور تاوتريخوالۍ  د جرمونو په ډله کې  وپيژندل شول چې عاملينو  ته يې په دغه قانون کې سزا هم ټاکل شوې ده.

(په مخ کې پرته لار : په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع د قانون په اړه تازه معلومات) په  نامه  د ملګرو ملتونو ۴۹ پاڼې لرونکى رپوټ  د يوناما د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر مياشتې د پخواني راپور  سره پرتله شوى  او موندنې يې تازه شوې دي. دغه رپوټ  له ۲۰۳ عدلي او قضايي کارکوونکو، پوليسو، دولتي چارواکو  او د ټول افغانستان په کچه د ښځو پر وړاندې د کابو ۵۰۰ پيښو پيښو د څارنې پر بنسټ جوړ شوى دى. دغه رپوټ  د ښځو پر وړاندې د قانون د پلي کيدو په برخه کې د هغو ارقامو معلومات چې له پوليسو،څارنوالانو او محاکمو څخه د افغانستان د ۳۴ ولايتونو له ډلې څخه له ۱۸ ولايتونو د  ۲۰۱۲ کال له اکتوبر نه د ۲۰۱۳ تر سپټمبر پورې راټول کړي وو،څيړلي دي.

دغه د تيرو ۱۲ مياشتو په موده کې د کابل  او هرات ولايتونو سربيره د افغانستان په ۱۶ ولايتونو کې د قضا او قانون پلي کوونکو ادارو  له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون د پلي کيدو  په برخه کې پر مختګونه او تشې موندلې دي. له  ۱۶ ولايتونو څخه د يوناما له خوا د ترلاسه شويو پيښوپيښو دغه بيلګې  دا څرګندوي چې  په يادو ولايتونو کې د

پولیسو او څارنوالانو له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۶۵۰ پېښې ثبت شوې دي چې له دې ډلې د څارنوالانو له خوا یوازې ۱۰۹ قضیې (۱۷٪) او د محاکمو له خوا ۶۰ قضیې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون پر بنسټ فیصله شوې دي. د یوناما په پخواني راپور کې (د ۲۰۱۱ اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ تر سپټمبر پورې) په همدغو یادو شویو ۱۶ ولایتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۴۷۰پېښې ثبت شوې وې. له هغه جملې څخه څارنوالانو یوازې په ۷۲ پېښوپېښو (۱۵٪) کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون کارولی دی او یوازې د ۵۲ پېښو په پریکړو کې محاکمو یاد شوی قانون کارولی دی. د یوناما د تیرې دورې د موندنو به شان په اوسنۍ دوره کې هم د ثبت شویو پېښو په منځ د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له ډولونو څخه د وهلو او ټپي کولو جرم زیاد دود وو.
دغه رپوټ موندلې چې که څه هم په یادو ۱۶ ولایتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پېښو په ثبتولو کې ۲۸٪ زیاتوالی راغلی، خو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون تطبیق د دغوو د قانوني مبنا په توګه دوه سلنه زیاتوالی موندلی دی. په دې کال کې محاکمو په ۶۰ پریکړو کې د ښځو پر وړاندې د منع قانون کارولی دی ( ۵۵ قضیې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون پر بنسټ محاکمو ته وسپارړل شوې دي) چې د تیر کال په پرتله په هغو محاکمو په ۵۲ پریکړو کې ( ۷۲ سلنه قضیې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون پر بنسټ محاکمو ته سپارل شوې وې) د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون یی پلی کړی وو.په اوسني دوره کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون په پلي کولو کې کموالی راغلی دی. دا د اندیښنې ځای دی چې د پېښو د ثبتیدو د شمیر د زیاتوالي تر څنګ په ټولیزه توګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د هغو جزایی پېښو شمیر چې د نافذه قوانینو له مخې د څارنوالانو له لوري محاکمو ته سپارل شوې دي کموالی موندلی دی. څارنوالانو او محاکمو هم په ډیری پېښو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون پلی کړی دی،خو د تیر یو کال په موده کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قانون پر بنسټ پېښو ته د رسیدګي سلنه کمه سلنه ښکاروي .
د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی او د یوناما مشر یان کوبیش وویل:( د افغان چارواکو له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د راپور ورکولو او ثبتولو په پېښو کې زیاتوالی هیلې زیاتوي، خو دغه مثبت ګامونه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون د پلي کیدو زیاتوالی د هغو کسانو د عدلي تعقیب او محاکمه کیدو چې د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی تر سره کوي یو ځای نه وو. د هغه په وینا تر هغه وخته چې یاد قانون په بشپړه توګه پلی نشي، په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی پایته رسیدل او د ښځو د حقونو ښه والی به محدود وي.
راپور زیاتوي، چې په تخمیني توګه د تاوتریخوالي له ۱۶۶۹ پېښو څخه چې د ښځو چارو وزارت، پولیسو او څارنوالانو له خوا د هیواد په ۱۶ ولایتونو کې ثبت شوي دي، یوازې ۱۰۹ پېښې (۷٪) د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون په رڼا کې د عدلي او قضایی مجراوو رسیدګي ورته شوې ده. دا ښیی چې په د تیر کال په لړ کې د ۱۶ ولایتونو په کچه په ټولیز ډول د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پېښو تر سره کوونکو عدلي څار او محاکمه کیدل د یاد قانون د کارولو لا لارې په ټیټه کچه کې وو.
د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې جوجیت ګنیان وویل،( د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون په هغو مواردو کې پلی شوی دی، هغه ښځې چې له تاوتریخوالي سره مخامخ شوې دي ملاتړ کړی دی. هغې زیاته کړه: خو په پراخه کچه د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ډیری پېښو د راپور نه ورکول او د زیات شمیر پېښو نه څیړل چې د تبعیض، ټولنیزو ناخوالو، فرهنګي چلند، له غچ اخیستو څخه ویره او پر مرګ ګواښلو له امله دي، تر اوسه پر خپل ځای پاتې دي. د سترې محکمې او لویې څارنوالي له خوا د متحدالامال مکتوبونو سربیره د عدلي څار ناسم چلند او له کور څخه د تیښتې په خاطر زندان ته اچول چې ډیری یی له تاوتریخوالي څخه د ژغورنې لپاره دي، هغه شان دوام لري.
دغه د زنا په جرم پیل ( د زوجیت له اړیکو پرته جنسي معاشرت) تر نامه لاندې هم تر سره کیږي. سترې محکمې په ۱۳۹۱ کال کې په دریو ولایتونو کې ۲۸۳ تنه (ډیری ښځې) د زنان په جرم د محکومیت، او ۷۱ تنه نور له کور څخه د تیښتې یا (د زنا په جرم د پیل) په خاطر پېښې ثبت کړې دي. راپور له دولت څخه غواړي چې د لوي څارنوالي متحدالمال چې د ۲۰۱۲ کال صادره چې لوی څارنوالانو باندې لازمه ګڼې څو ډاډ تر لاسه کړي چې ښځې له کور څخه د تیښتې په تور تر عدلي څار نه نیول کیږي، په بشپړه توګه پلی کړي. دغه راپور همدارنګه له دولت څخه غواړي چې هغه ټولې قضیې چې ښځې په کې له کور څخه د تیښتې په توریا (په زنا د پیل ) په جرم حبس شوې دي له سره وڅیړي او هغه ښځې چې په تیروتنې سره زنداني شوې دي له ځنډ پرته خوشې کړي. د ملګرو ملتونو راپور موندلې ده، چې پولیس او څارنوالان د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښو ته په مناسبه توګه رسیدګي لپاره تخنیکي، ملاتړ او منابعو او د حکومت په کچه سیاسي ملاتړ ته اړتیا لري، څو وکولای شي په بشپړه توګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ثبت شویو پېښو ته رسیدګي وکړي. دغه ملاتړ کولای شي چارواکي وتوانیږي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون عملي کړي او خپلې دندې په ښه توګه تر سره کړي.

جورجیت ګنیان وویل،(عدالت ته د ښځو مخ پر زیاتیدونکو غوښتنو چې ګام یی پورته کړی دی څو د تاوتریخوالي د پیښو راپور ورکړي، د دې لامل شوې چې د پولیسو،څارنولانو او محاکمو له خوا د پیښو ثبتول زیات شي. هغې زیاته کړه، خو پر دې سربیره عدلي او قضایی مقامات اړتیا لري چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قانون، چې یو عمده تقنیني سند دی د تاوتریخوالي پر وړاندې د ښځو بشپړ ساتنه تر نو وخته زیات پلی کړي څو د تاوتریخوالي د پیښو تر سره کوونکي د عدالت منګولو ته وسپارل شي. یواځې هغه وخت دی چې عدالت ته د ښځو غوښتنې تحقق مومي.
د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قانون د پیاوړتیا او د تاوتریخوالي پر وړاندې د ښځو ساتنه ۷۱ راپور هغه وړاندیزونه د یوناما په پخواني راپور کې شوي وو نوي کړي دي. د ملګرو ملتونو راپور یادونه کوي چې یواځې څلور دغه وړاندیزونه د افغان دولت له تحقق موندلی دی او ۲۰ نور وړاندیزونه په ټیټه کچه پلي شوي دي. د ملګرو ملتونو سازمان دغه شان له دولت څخه غواړي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ښه پلي کیدو د وړاندیز شویو توصیو تر څنګ د ښځو پر وړاندې د ټولو ډولونو تبعض د له منځه وړلو په اړه (CEDAW) د ۲۰۱۳ اګست، د ۶ میاشتو په موده کې یو دوه کلن عملي پلان ته پراختیا ورکړي.د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون د ګړندي پلي کیدو په منظور دولت ته د وړاندیز شویو توصیو د ډیر ورو پلي کولو دلیل کیدای شي د کافي منابعو او په دولت کې د لازمو وړتیاوو کموالی وي او یا هم په ټولو سطحو کې د ځینو افغان مقاماتو له خوا د ښځو د حقونو ښه والي او ملاتړ سره بې علاقه ګي وي. د تیرو وړاندیزنو باندې پر ټینګار سره او د څوو نویو توصیو په وړاندې کولو سره یوناما له دولت څخه غواړي چې د خپلو حقوقي ژمنو سره سم، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ښه پلي کیدو په اړوند د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پر وړاندې د ښځو او نجونو د ساتنې ،ناوړه دوديز چلند، او په دې تړاو لنډ مهاله او اوږد مهال اقدامات تر لاس لاندې ونیسي. یاد راپور دغه توصیه کړې ده چې ، ستر تمویل کوونکي د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون د تطبیق په برخه کې د معینو شاخصونو سره د څارنې یو ګډ چوکاټ چې د دومداره مالي ملاتړ په کې رانغاړي د دولت له خوا د مشهودو او سنجش وړ لاسته راوړنې او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره د غوښتنې سره سم اقداماتو په موخه جوړوي.

**د ملګرو ملتونو په راپور کې یو څو روایات:**

زه د ۱۵ کلونو په عمر په جبري ډول زما د د ورور د واده په بدل کی چې زما د میړه له خور سره یی واده وکړ، واده شوم. د لومړۍ ورځې څخه زما میړه راته روښانه کړه چه دغه واده د هغه د خوښې خلاف دی او په دوامداره توګه زما په وړاندې د وهلوټکولو او بد چلند په ګډون له تاوتریخوالي څخه کار واخیست. د ۲۰۱۰ په کال کې زما میړه دوهم واده وکړ او زه یې اړ ایستم چی کور پریږدم، مګر زما کورنۍ زه بیرته د میړه کورته په تللو مجبوره کړم. د ۲۰۱۱ په کال کې، وروسته له زیاتو وهلو، زما میړه او لیور زه د خپل پلار کورته بوتلم او پلارته می وویل چه ما نشي ساتلی. ما د افغانستان بشري حقوقونو خپلواک کمیسیون ته عرض وکړه د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمیسیون زه د امن کورته واستولم او یو مدافع وکیل یې راته وګمارلو. زما قضیه د منځګړیتوب له لارې حل شوه. زما میړه پولیسوته په لیکلي توګه ضمانت ورکړ چی نور به د تاوتریخوالي څخه ډډه کوي او زه بیرته د خپل میړه سره ولاړم. یوه میاشت کې دننه هغه بیا ځلي زما په وهلو پیل وکړ. هر کله چې ګاونډیانو زما د ژغورنی لپاره مداخله کوله زما میړه د دې هڅه کوله چی ما ووژني. زه مجبوره وم چه بیا خپل کور پریږدم. زما قضیه درې ځله د محلی شورا، مشرانو، جرګو او دښځو چارو ریاست لخوا په منځګړیتوب حل شوې. زما کورنۍ نه غواړي چه قانوني چلند وکړم ځکه چه دا د پښتونوالي له اړخه شرم د او همدارنګه بیا به زما ورور هم مجبور اوسی چې خپله ښځه طلاقه کړي. ما ډیر ستونزي ګاللي دي او زه عدالت غواړم. زه د بل هیڅ شي پروا نلرم.

د (ن. ی. ک) ۲۴ کلنې ښځې سره د یوناما مرکه، نومبر ۲۰۱۳کال، ننګرهار ولایت.

زه د خپل تره د زوی له خوا تښتول شوې وم، هغه زما لاسونه وتړل او پر ما یی جنسی تیری وکړ. زه د هغه د خپلوانو په کور کې ساتل کیدم. له هغه وروسته زه بې هوښه شوم. پولیس راغلل او زما د تره زوی او د کور خاوند یی ونیول. پولیسو له ما څخه تحقیق وکړ او زه یی امن کور ته واستولم. زه شرمیدلم او ویریدلم. له امن کور څخه دا چې د جنسي تیري له امله ما بیړنۍ درملنې ته اړتیا درلوده روغتون ته ولیږدول شوم. زما د روغتیایی حالت په پام سره ډاکټرانو د درملنې لپاره زه کابل ته ولیږدولم او د درملنې په برخه کې د ښځو چارو څانګې له ما سره مرسته وکړه. زه په کابل کې د

امن په کور کې ژوند کوم او له هغه ځایه  خپله قضیه تعقیبوم. زما مدافع وکیل راته وغوښتل چې زما قضیه له کندز څخه کابل ته ولیږدول شي. په کندز کې څارنوالانو زما لپاره دوسیه جوړه کړه او هیله ده چې زما قضیه ژر واوریدل شي.
س، الف ۱۴ کلنه انجلۍ کندز ښار د ۲۰۱۳ کال سپټمبر

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**